**دمقالي ليکونکي**: ايرک مارګوليس(Eric Margolis).
منبع او **خپريدو نيټه** : ګلوبال ريسرچ «۲۰۱۶-۱۰-۱۳».
**ژباړونکي** : پوهند وی دوکتور سيد حسام «مل» .
---------------------------------------------------------------

# دافغانستان احمقا نه جګړه

## Afghanistan – Fool’s War

پنځلس کا له د مخه په همدي اوني کي امريکا پخپل تاريخ کی ترټولو اوږد جنګ پرلاره واچول اود ا فغانستان ګا ونډي هيواد پاکستان ته اړشوچي پر افغانستا ن با ندي دامريکي دمتحده ايالاتو ديرغل اودحملي دپاره آسانتياو برابرکړي اوکه چيري پاکستان دامريکي غوښتنه ونه مني نودامريکي دهوايي ځواک په بمبارد سره پاکستا ن به د تيګي دوری ته وليږي.

امريکا دخونړی (۱۱/۹) حملووروسته ډير په غوسه شود **بوش** داداری سا تونکی ممکن چی د دندي په وخت کي په خوب تللي وه اما يوڅه چي اوس څرګند شوی دي هغه دادي چي دامريکي اکثر خلک په دی باور شوي چي دسپتمبر ديولسمی نيټی پيښه پخپله دامريکی دمتحده ايالاتو د نوی محا فظه کارانو (Neocons) له خوا پرلاره اچول شوی دي .



افغانستان دامريکی دمتحده ايالاتو دغچ اخيستو هد ف ټاکل شوی وه حتی که چيري د (۱۱/۹) يرغل او پيښه له د با ندي يعني که له جرمني اواسپا نيا څخه پرلاره اچول شوی واي .انتحا ري يرغليزماموريت له ډير پخواامريکي ته چي هيوادونه اشغالوی ديو جزا اوديو تنبي په بڼه را مينځته شوی لکه جا پا ني له ځا نه تير پيلوت يا دسعودي عربستان دمقد س خا وري اشغال اويا دواشنګتن غوځ ملاتړله اسرايل څخه چي دفلسطين خاوره يي اشغال کړی دي .

هغه آوازي اوګونګسي کوم چی د سپټمبر دیولسمي پیښي دیرغل پړه پرسعودی اتباعو باندي اچول شوي وه د بوش د اداري له خوا په ډیر بیړه سره پټ او پر دغه ګونګسي باندي برغولي کیښودل شو دا هغه څه وه چي دخلکو کرکه دامریکي دآزادي دارزښتونو په وړاندي وپارول شو اود اسلام څخه د ډار دپوچ او د مهمل تخم په کرلو سره حالات اوس دی ځاي ته ورسید کوم چي خلکو پخپلو رڼو سترګو ګوري چي د تروریستا نو سره جګړه په بشپړه بڼه یو مصنوعي اوساختګي جنګ جګړه دي .

د کمونیزم ضد جها دی **ا سامه بن لادن** څیره له حده زیا ت وپړسول شو او هغه یی دامریکي دمتحده ایالاتو یوشریر ، لوی شیطان اودیوغټ دښمن په صفت ونومول شو بل هغه مطلب کوم چي دیادوني وړ بلل کیږی هغه دادي چي ما پخپلو سترګو هغه کمپ یا اردوګاه په افغانستان کی ولید چیري چي هلته د پاکستان د اطلاعا تو (آي اس آی ) د ماهرانو له خوا جها د یا نو ته د ترورراو دا نسا ن وژنی زده کړه ورکول کیدل اوبیا یي دهند تر ولکي لاندي کشمیرته دجنګ د پا ره لیږل.

افغانستان کوم چي یولیری پرته ، تیا ره زړه نیونکي غرني هیواد دي پرځای دی کوم چي افغانستان ته د یرغلګرو امپراتورانو اود نړۍ دفاتحا نو دقبرستان نوم ورکړ شوي دي- دغه یرغلګر امپراتوران اوفا تحان لکه لوي سکندر ، چنګیزخان ، تیمور مغول ، سکان اود بریتا نیا امپراتوري او واکدارانو کوم چي په (۱۹) پیړي کی دري ځلي پرافغانستان باندي یرغل وکړ، شوروی اتحاد د ځمکی پرسر ډ یر پیا وړي ځواک چي په کال (۱۹۷۹) کی دعرب سیند اودپا رس خلیج ته د یو معبر یا د دهلیز د ترلاسه کولو په نیت پرافغانستان باندي تجا وز وکړ تولو ته روښانه شو چي ددی هیواد دخلکو اودسرسخت قبایلی پښتنو پواسطه سره چي دهندوکش دغرونو په لمن کي سره میشته دي د شرمونکي ما تي سره مخا مخ او له یوسره په ګونډه شوی دي ، اما نا پوه اواحمق **جورج دبلیو بوش** ( Georg W. Bush) له خپل ځانه بی خبر پرداسي یو هیواد باندي کوم چي دهغه هیواد له خلکو څخه پریان او فرښتګان ډارېږي یرغل وکړ اوددي هیواد درانیول اود تسخیرولو بند وبست وکړ یعني دداسي یو هیواد تسخیر کوم چي دهغه هیواد دخلکوسرګرمي اوشوق جنګ اوجګړه دي اودما تي اوشکست سره ا صلا پردي اوبیګانه دي ، زه په کال (۱۹۸۰) کي دافغان دمجاهید ینو سره اوسیدم هغه وخت چي هغوي دشوروی اتحاد داشغال په مقابل کی دخپل وطن دآزادي دترلاسه کولو په مقصد جنګید ل اوهمداراز په کال (۱۹۹۰) کي کله چي د طا لبا نو غورځنګ نوي جوړید ل زه هملته اوم او همغسي چي ما پخپل مطبوع کتاب کی دافغانانو په زړه ورتیا اودجنګ جګړي پر مهارتونو باندي لیکني کړي دي نو په سرکي پښتون جنګیالي ډیر زړه ور مردان اویا خلک دي چي ما پخپل عمر کی داسي توریالي او جګړه مار خلک تراوسه نه وه لیدلي دغه زړه ور جنګیالي یواځی هغه پخواني لرغوني سلاح او توپکي لري چي له پلارونو ورته په میراث را پاتي دي اما به له کوم شک اوشبّه باید په ډاګه شي چي دغه خلک

ډیر زړه ور اوډیر بې جوړه خلک دی .
طالبانود(۱۱/۹ ) دپیښی سره هیڅ ارتباط نه درلود هغوي دخپل واکمني په وخت کي تر (۹۰) سلنه د تریاک اودهیروین تجارت په ټپه ودرول .

دامریکی متحده ایالات دکال (۲۰۰۱) دیرغل په اوږدوکي دهیروین اود تریاک په تجارت اورکړي ورکړي با ندي لاس پوري کړ اوخپل ایتلاف د اتحاد شمال د تاجکا نو د شوری د کمونستا نو پخواني متحد او په شمال کی دازبکو په اصطلاح د پښتنو خوني دښمن او دکمونستا نومخکیني متحد او اندیوالانوسره نژدی او ګډ تړون وکړ اوهغه داچي اشغال کونکی قوتونه دخپل هوایی ځواکمن اود لوړو تکتیکونو په پلي کولو سره خپل ځان په افغانستان کي دجنا یت کارو عناصرو سره نژدي او یوځاي کړ اود (سی آی ای ) پوري تړلي یوه لاس پوځي او ګوډاګیي رژیم په افغانستان کي رامینځته کړ او ددولت واک همدغه جنایتکا رانوته وروسپارل اوهم د(سی آی ای ) سازمان مخکینی بدنام مخفی کمونیستي پولیس د شکنجي ورکولو اود یولړ جنا یا تو د ترسره کولو دپا ره په مبارزه کی د طا لبا نو په وړاندي وسا تل .



کابل په «۲۰۱۱» کي

تیره اوني دواشنګټن دافغانستان دپاره دمرستو دځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) په بشپړه بڼي سره د یو راپور په ترڅ کي وښودل چي په افغانستان کی فساد ، جرم، بډي اخیستنه اوبډي ورکونه ، اود مخدره موادو پیسي هغه کړني او معاملی دي چي په نه رغیدونکي بڼي سره دامریکي دمتحده ایالاتو دهڅي اوداند کمزورول په افغانستان کی دیو ژوندي تولني درامینځته کیدو دمخنیوي په خاطر ترسره کیږي .
دبلي خوا خوا څخه بی دامریکی دمتحده ایالاتو د (۲۴/۷) هوایی پوشش څخه په کابل کي به څه واقع شي ؟ بلي د واشنګتن خلک یا دهغوی پوري تړلی به له کا بله څخه زر به یوی خواته جاړو (جاروب) شي . افغان پوځ اودافغان پولیس دافغانستان دولت ته هیڅ وفاداري نه لري هغوي یواځي د بنکیا نو (امریکایانو ) د دالر د ترلاسه کولود پاره مبارزه کوي کابل لکه د بغداد په څیر دامریکي د پاره دخصومتونو اویا ددښمنیو دسیند

په مینځ کې یو محافظوي ځیر ګنل کیږي .
د ګلوبا ل یادنړیوال دخیرني اود پلټني په نتیجه کي دافغانستان د(۱۵) کلن اودعراق د جنګونو ما لی لګښتونه اومصارفات په تخمیني بڼي سره (۶) تریلیون امریکایي ډالر برآورد شوي دلته یوه شي چي ډیر د تعجب وړ دي هغه دا دي چي له پاکستان څخه تر کا بله پوري د بنزین دیو ټانکر نفت لیږدول امریکي ته دهغه په هر ګلن باندي (۴۰۰) امریکایي دالر لګښت راځی یا په ساده عبا رت سره هره ګل ن بنزین چي له پاکستا ن څخه تر کابل پوري رسیږي پنتاګون ته (۴۰۰) دالر تماميږي او په همدي شا ن د دغه جکړو مالي لګښت که دامریکي پر خلکو با ندي وویشل شي نو هره امریکا یي سړی با ید (۳۳۰۰۰) ډالر خپل ونډه ورکړي کوم چي دامریکي دولت دغه پیسي د ما لیي ورکونکو څخه تر لاسه کوي **بوش** امر کړی وه چي د افغانستا ن اودعراق د جنګونو مالي لګښتونه دامریکي په ملي پورونو کی با ید پټ کړل شي .
دبلی خوا څخه تراوسه د ا فغانستان په جنګ کي (۲۲۱۶) امریکا یي سرتیری خپل ژوند دلاسه ورکړي ، (۲۰۰۴۹) نورسرتیري ډیر شد ید ټپی شوي او په عین زمان کی تر(۱۱۷۳) امریکایي مستخد مین هم خپل ژوند دلاسه ورکړي دي دبلي خوا څخه لا تر اوسه په عراق اوپه افغانستان کي د ا مریکي د ما لي اجیرانو یوزیات شمیر د بی روزګاری سره مخا مخ دی .
دیادوني وړ مطلب دا چي دنوبل دجایزي ګټونکي جمهور ریس ښاغلي اوباما وعده سپارلي وه چي هغه د امریکي سرتیري له افغا نستا ن څخه تر کال (۲۰۱۶ ) پوري را باسي چي یی ونه ایستل .
اوس ډیر امریکایی قوتونه ددي په عوض چي خپل لاس پوځي رژیم وسا تي هغه واکداران د خپلو خلکو په واسطه سره سا تل کیږی – طا لبا ن او نور لس ګونه شمیر دمقاومت ډلی ټپلی چي خپل ځان ته دمقا ومت متفقین( کوم چي په پنتاګون کي امریکایي رسنیوپه طوطي وار بڼي سره هغوی ته دتروریزم کلمه پکار وړي ) یادوي هغه ګروپونه دي چي دافغانستان زیاتي سیمي تر خپل ولکي لاندی لري .
تیره اوني دامریکي متحده ایالات اودهغه سره تړلي دناتو دغړو هیوادونو استاذی او اویوشمیر نورسا ترا پ(محلی حکومتونه) هیوادونه په دواطلبانه بڼي سره دبروکسل په کنفرانس کي افغانستان ته دمرستي ورکولو په نیت ګډون کړی وه او د کنفرانس په پایله کي نوموړي هیوادونو وعده وسپارل چي افغانستان ته دځلورو راتلونکي کلنو دپاره ( ۱۵،۲) ملیارده امریکایی ډالرمرسته کوي او په عین زمان کي ددي ناهیلي اونامعلوم تپل شوی جګړي ته یوشمیر سرتیري به هم ولیږي او داځکه چي واشنګټن په خپل شرمیدونکي ما تي با ندي اعتراف نه کوی اودبلی خوا څخه ددی تحمل هم نه لری چي دغه سترتتیژیک ملت دچین په لمن کي سقوط وکړي همدارنګه دامریکي متحده ایالات په دي تازه وختونو کي په دي هڅه اواند کي دی چي دافغانستان په ډرامه کي دهند پښي

را داخل کړي اوپه دی توګه دهند ، پاکستان او د چین تر مینځ داختلاف تخم وکری .
دلته دکنفرانس په خونه کی هیڅوک دغوری اندازی یا دابرقدرت دخودمحوری په اړه پوښتنی ونکړ ، اما لکه چی ټولو ته معلوم دي افغانستان هغه هیواد دی چي په نړۍ کي دتریاک ، هیروین اوداوپیوم په تولید کي بی جوړه یوهیواد دي کوم چي د مخدره موادو تولید دامریکی دمتحده ایالات تر ویاړني نظارت لاندي تر لاسه کیږی کوم چي دغه له شرمه ډک ویا ړني راتلونکی جمهور ته به د میراث په بڼه ور پا تي شي .
**ددی مقالی دلیکونکي په اړین** : مارګولیس د بین المللی جایزي ګټونکی مقاله نویس مفسر دامریکي ، کانادا ، انګلستان ، فرانسه اودخلیج هیوادونو ، ترکیه مالیزیا او پاکستان مید یا سره مطبوعاتي خبری – مرکی او هغو ته مقاله لیکونکي شخص دي.
---------------------------------------- **په درنا وی ۲۰۱۶-۱۰-۱۴**